AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوار سنگروال ۲۰۲۲/۰۱/۰۲

# د امان الله خان بنېګڼې او تېر وتنې

## د امان الله خان د واک اوځواک لومړنی هڅې

## ۲ برخه

امیر لږه موده وروسته عنایت الله خان پرېښود خو نصرالله خان په بندکي پاتي شو. امان الله خان ددې لپاره چې نصرالله خان خلکوته دیوه ګنهګار په تو ګه ور وه پېژني د نایب السلطنه له بند نه دوه میاشتې تېرې وې چې په ارګ کې د سردارانو په وړاندې د امیر دوژلو مسله را پورته کړه.
د حبیب الله خان د شهادت په تړاو د تورنو کسانو په لړکې سردار نصرالله خان، عبدالاحدخان او د امیر ددربار پوځي مشر علي رضا خان لمړی ګنهکاران وبلل شول.
« د امیر تره امین الله خان و دربډ چې یو وروږ مې نورو وواږه او دا موږ ووژنو...؟ په پای کې نایب السلطنه په بند کې پاتې شو،عبدالاحد خان تبعید شو او بې ګناه علی رضاخان په په دار وه ځړول شو[1] .

میرزا محمد حسین خان د ارګ په یوه ونه کې ځوړند,ولید ل سو، ولې دخلکوترمنځ انګېرنې داسې وې چې امیرحبیب الله د شجاع الدوله خان له خوا وژل شوی دی.

حال داچې دی دکورنیو چارو وزیر وټاکل شو، محمد نادرخان ورسره ۲۱ تنه نور له بنده ازاد شول او نایب السلطنه لږ موده وروسته ومړ .

د مخه مو وویل چې شجاع الدوله خان د امیر نصرالله خان له خوا کابل ته واستول شو او د فبروری په ۲۳ درویشتمې نېټې یې امان الله خان دامیر له مرګه خبرکړ.

امان الله خان د یوې ناستې په ترڅ کې د امیر نصرالله خان لیک غونډې ته وه لوست چې امیر د یو ناپېژنده سړي لخوا ووژل شو او نایب السلطنه (نصرالله خان) په پاچاهې وټاکل شو... عین الدوله (امان الله خان) باید خپل بیعت لیک جلال اباد ته واستوي...ډېر ګډونوال په سرکې اعتمادالدوله عبدالقدوس خان په دې اند ول چې امان خان باید بیعت وکړي...

محمودطرزي څه ونه ویل ولې نایب سالارصالح محمد خان امان الله  خان ته بیعت وکړ.

نوی امیر دخپل واک اوځواک د پیاوړتیا لپاره په دری ټکو ټینګار وکړ: نایب السلطنه یې د پلار په وژلو تورن کړ د سرتېرو تنخوایې زیاته کړه  او خلکو ته یې د بشپړې خپلواکۍ ډاډ ورکړ.

بیانو امان الله خان دمارچ په دریمه(۳) د پلار دوژنې او دخپلې واکمنۍ په تړاو د هند وایسرای لارډچلېمسفورډ ته لیک وا ستوه او داپرېل په دیارلسمه (۱۳) نېټه یې په یوه لویه غونډه کې د بشپړې خپلواکۍ اعلان په دغو ټکو وکړ...
ما ځان او هېواد ازاد کړ، له دې وروسته به افغانستان هغسې خپلواک وي لکه د نړۍ نور هېوادونه...

هیڅ بهرنی هېواد به پرېنښودل شي چې د افغانستان په کورنیو او بهرنیو چارو کې لاس وهنه وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

که چا داسې وکړل زه به يې په دغې توري مرئ پرې کړم.

د « لودويک ادمک) د خرګندونوله مخې (دشلمې پېړۍ تر نيمايي پورې د افغانستان باندنۍ اړيکې) د امير له اوړدې وينا وروسته برتانوي استازي حافظ سيف الله خان ته مخ ور واړاوه او په نرمه يې ورته وويل:

سفيره ته پوه شوې چې ماڅه وويل؟

هغه ځواب ورکړ، چې «هو» زه پوه شوم. وروسته نوموړي خپل حکومت ته په ټينګار سره وويل چې امير ده ته مخ راواړاوه چې خپل حکومت ته خبر ورکړي[2].

لارډچلمسفورډ د تېرپه څېر فکر نشو کولای، ياني کله چې امير عبدالرحمن ومړ لارډکرزن وپتيله چې له اميرحبيب الله خان نه نور امتيازات ترلاسه کړي نود ۱۹۰۵ کال موافقه ليک يې اړين څکه وباله چې د امير عبدالرحمن خان موافقه ليک شخصي بڼه لرې او د هغه له مړيني وروسته ترون هم له منځه لاړ.

ولې د اعليحضرت امان الله خان د پاچاهی پيښې هفسې نه وې نو ځکه يې د افغانستان د خپلواکی په تړاو په پرېکنده ډول څه ونه ويل يوازې د اميرحبيب الله خان په مړينه يې خواشيني وښوده.

»داميرامان الله د ليک په ځواب کې د اپرېل په ۱۵ (۱۹۱۹زکال) نيټه يوازې د امير د شهادت يادونه شوې وه، له خوا خوږۍ پرته يکي د کوم نوي هوډ يادونه راغلې نه وه[3].

امان الله خان چې پوښو انګريزان نه غواړي د افغانستان خپلواکي ومني نو بيا نه يوازې په افغانستان کې د ننه اولس خپلواکی ته هڅوي بلکې د هند په نيمه وچه کې هم هندوان، سکان او مسلمانان د انګرېزانو په وړاندې پاڅون ته را وبلل.

هغسې خو د برتانوي هند چارواکو د هند دازادۍ ببنونکو غورځنګونو د خپلواکی لپاره د رولټ (Rowlett)په نوم د جزا قانون هم را ايستلی و.

په ۱۹۱۹ کال د اپرېل په مياشت کې د «امرتسر» پيښه هم را منځته شوې وه چې ۳۷۹ تنه يکې وژل شوي وه او سل تنه يکې سخت ټپيان ول (که څه هم يو شمېر ليکوال د زخميانو او مړو شمېر ۱۵۰۰ تنه ښيي).

دا هغه پيښه وه چې جنرال «ريګينالډ) له دندې ګوښه او «ګاندي» ته يې دا برې په برخه کړ چې په پای کې د برتانوي هند د ماتې لامل شو.

د عثماني ترکی تجزيه له ترکې نه د مصطفی کمال دفاع، په منځنی اسيا کې د بلشويکانو برې او د امان الله خان پاڅون انګرېزان و لړزول.

امان الله د هېواد په قبايلي سيمو کې د جهاد غږ پورته کړ په کابل، جلال اباد او دهېواد په نورو سيموکې يو دبل پسې جرګې جوړې شوې. د ډېورنډ د کرښې دواړو غاړو ته پرتو خلکو پاڅون وکړ. آن دا چې د انګرېزانو قومي ملېشاوو هم دندې پرېښودې.

د هند ويسرای د هند په ګډون د سيمو د ټولو پېښو د حل کلی دا وګڼله چې بايد جلال اباد ونيول شي د برتانيي مرکزي حکومت د برتانوي هند د وايسرای وړانديز سم ونه باله او ورته يې وويل:

تاريخ ښودلې ده چې د افغانستان له پوځ نه د افغانستان ولس او قومونه د بهرنيو د برېد په وړاندې ډېر پياوړي دي.

موږ بايد د تاريخ درسونه هېر نه کړو.

پاچا امان الله لومړی حکومت جوړ کړ او عبدالقدوس خان يي صدر اعظم او محمود طرزی يي د بهرنيو چارو وزير وټاکل.

بيا يي بخاراته خپل استازی په ګوته کړ او له شوروي سره يي اړيکي ټينګي کړې. شورويانو ته هم د افغانستان خپلواکي د برتانويانو په وړاندې يو ستر برى وو. نو ځکه يي د يوې اعلامي يي په ترڅ کي د مارچ په ۲۷ مي نېټي په (۱۹۱۹ ز کال) د افغانستان خپلواکي په رسميت و پېژندله.

په داسي حال کي چي له يوې خوا شوروي مشر (لينن) محمد ولي خان درواز د مي په ۲۷ مي (۱۹۱۹) نېټه د افغانستان د استازي په توګه مني او له بلې خوا په همدې نېټه (۲۷ مي) د لوی افغانستان ولس پکتياته څېرمه، قبايلي مشران د انګليس پوځي کلا ګاني له منځه وړي او دافغانستان بيرغ پورته کوي.

دا هغه مهال دی چي امان الله خان له دې نېټي نه دمخه ياني د مي په مياشت کي د هېواد دريو خوا ووته پوځونه لېږلي ول.

ياني خيبر ته سپه سالار صالح محمد خان، کندهارته عبدالقدوس خان او خوست ته محمد نادر خان استول شوي ول. د ډيورنډ د موافقه ليک نه وروسته دواړو غاړو ته پرتو اولسونو د انګليس په وړاندې توپک له غاړو نه وه ښکته کړي. . . ولي د امان الله خان په راتلو د برتانوي هند د ځواکونو په وړاندې جګړه بيز مورچل لا تود شو.

له صالح محمد خان نه د مخه په پام کي ول، چي د مي په ۸ نېټه په پېښور کي د افغانستان پوستي دفتر په نوښت د هغي سيمي جنګيالي پاڅون ته را وبولي چي د انګرېزانو د پوځ مخ هغه لورته واړوي.

د پوستي امر غلام حيدرخان او په پېښور کي افغان وکيل عبدالرحمن لا دمخه امان الله خان ته داډ ورکړی وه چي د افغانستان د خپلواکی په تړاو به د هند په نيمه وچه کي هم پاڅونونه له سره ورغول شي.

وروسته ښکاره شوه چي عبدالرحمن خان په هندکي و ټاکل شو. نو د پېښور کمشنرروزکيپل rooz Keppel تړي و پوښتل کوم امير هلته په دنده ګمارلي يي؟

صالح محمد خان له ټاکلي وخت نه دمخه د مي په څلورمه(۴) نېټه په خيبر کي جګړه پيل کړه په لندی کوتل کي يي ماته وه خوړه.

سرفريز تتلر کبنلي دي (۱۹۶ مخ) چي برتانوي پوځ دپېښور ښار کلابند کړ او په خلکو يي د ښبلو اوبه بندي کړې.

همدا لامل وه چي د پېښور پاڅون شنډ کړی شو، غلام حيدر خان او دهغه هندي ملګري لکه عبدالجليل او ګوش ملاپ سنګ بنديان شول.

حاجي عبد الرزاق چي لومړی د سردار نصرالله خان له ډېرو نژدې پلويانو څخه وه، دده د ملا تړ په تړاو يي د مومندو په سيمه کي فعاليت کاوه، د ترنګزو حاجي صاحب په ګډون يي له ډيرو سيميزو مشرانو سره ليدلي ول.

کله چي د امان الله خان فرمان يي تر ګوتو کړ چي دازادو قبايلو په سيمه کي په دنده ګمارل شوی يي،که څه هم ده له سلا او مشورې نه وروسته خپل زوی حافظ عبد الرب او يو هندي مجاهد محمد بشير لا دمخه د عليحضرت امان الله خان دربارته چي خپل بيعت ليک يي هم ورکړی وه استولي ول.

عبدالرزاق اندړ صالح محمد خان ته ليکلي ول چي ما په ازادو قبايو کي ولس وسلوال پاڅون ته هڅولي دي پام کوه چي جګړه له وخته مخکي پيل نه کړی.

ولي هغه د همدې تېرو تني له مخي جګړه پيل کړه او ماته يي و خوړه ،د غبار په اند حال داچي »د څلورو سوو افغان سرتېرو مړي د جګړې په ډګر کي پاتي ول، صالح محمد خان چي يوازې ګوته يي زخمي شوې وه د خپل ياور محمد ګل خان مومند سره په داسي حال کي چي سرتېرو ته يي دشا تګ امر ورکړ د جګړې ډګر پرېښود.[4] خو د انګرېزانو پر وړاندې جګړه پايته ونه رسيده. دانګرېزانو پر وړاندې د افغان ولس جګړې لا دوام درلود .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په څير و لولئ

د محمد عمرخان اپريدي ولسي لښکر د ملا عبدالرزاق اندړ هاند ی هڅې ان تر دې چې نوموړي امان الله خان ته وکښل:

داچې صالح محمد خان له ناپوهی دا کار وکړ که له غداری؟ خو زه په خپلې دويمې خبرې ټينګار کوم.

عليحضرت امان الله خان غوښتل چې نوموړی اعدام کړي خو يوازې په بند محکوم شو او بس.

ولې دافغان ځواکونو کنډکمشر محمد صديق خان بياهم په کمکي خيبرکي برتانوي ځواکونوته درنه مرګ ژوبله واړوله.

د ننګرهار، لغمان ، نورستان او کنړ ولسي مشرانو پخپل ولسي لښکر له يوې خوا وسلوال بريدونه پيل کړل او له بلې خوايي د خلکو په منځ کې د جهاد تبليغ کاوه.

د جنرال محمد عمرخان ناصري (سورجرنيل) او کند کمشر محمد اکليل خان بدخشانی د «باسول) په سيمه کې په داسې حال کې چې غلام نبی خان ځرخي هم له کابل نه ننګرهارته رسېدلی وه، د انګرېزانو د پرمختګ مخه ونيوله.

انګرېزانو په دې هيله چې جلال اباد لاندې کړي د سور جرنيل محمد عمرخان ناصري او محمد اکليل خان د ځواکونو سره مخ شول. برتانوي ځواکونو نه يوازې پرمختګ ونه کړ بلکې په دفاعي حالت کې هم له ډېرې وېرې سره لاس او ګرېوان ول.

د لغمان، کنړ، نورستان او ننګرهار ولسي لښکر چې شمېر يې زرګونو کسانو ته رسېده په دې هيله چې په ډکه او خيبر وسلوال بريدونه وکړي، دا ځکه چې لا دمخه د لنډي کوتل او تورخم په شاوخوا سيمو کې شينواري زر شاه د انګريزانو مور چلې تر بريدونو لاندې نيولې وې.

برتانوي ځواکونو چې د افغانانو ولسی بهير وليد چې له چترال نه را واخله تر بولانه پوري ټول ولس دانګرېزانو په وړاندې پاڅېدلی دی نو د انګلستان او افغانستان تر منځ د متارکې خبرې پيل شوې.

اعتماد الدوله عبدالقدوس خان له کابل نه کندهارته په لاره وه چې برتانوي ځواکونو د چمن له خوا په سپين بولدک بريد وکړ.

برتانوي نظامي کار پوهانو داسې انګېرله چې پوځونه به يې د خيبر له لارې جلال اباد او دکندهار له لارې په کابل وسلوال بريدونه کوي.

همدا لامل وه چې انګرېزانو خپل ځواکونه سپين بولدک ته ورسول او جنرال (وپشير Wapshare) دېته اړ شو چې په کابل باندې د بريد لپاره يو شمېر وسلوال ځواکونه مرستې ته را وبولي.

دغه مهال د افغان ځواکونو شمېر د تورن محمد يوسف تر قوماندې لاندې درې سوه (۳۰۰) تنوته رسېده چې په ډېرې مېړانې يې د سپين بولدک له کلانه ساتنه کوله. جنرال هاردي دکلا دېوال چپه کړ چې په پای کې ډېر شمېر د برتانوي ځواکونو لخوا ووژل شول.

يو شمير چې د محمد يوسف په ګډون ټپيان ول، د انګرېزانو په ولکه کې پرېوتل.

عبدالقدوس خان لومړی خوشدل خان چې د کندهار والي وه ونيوه بيايې سپين کفن واغوست او په ولس يې غږ وکړ.

د کندهار د ځواکونو مشر ډګرمن غلام نبي خان ناصري چې دخپل تربور په خبر سور کرنېل ناصري چې په ننګرهار کې فعال وو، دارنګه ده هم ځواکونه چمتوکړي ول چې سپين بولدک ته ځان ورسوي، ولې دوالي لخوا يې مخه وه نيول شوه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

دا ځل د اعتماد الدوله په ملګرتيا د سفر برئ اعلان وکړ او له قومي مشرانو سره مخ په سپين بولدک رهي شول. پدغه وخت کي د جمعي دلمانځه پر مهال يو تن په جومات کي وويل چي يو سوني هلک يې په خوب کي ليدلی دی چي د قزلباش نور محمد شاه په (غوه جل) کي ښخ شوي دی.

دا دي ليارہ چي افغان جنګياليی ښيرته راستانه شی. د دي پيښي له بابته په کندهار کي يوه لويه غميزه او ستونزه په سيمه کي منځته راغله خو ډير ژر په ډيري اوښياری پايته ورسيده.

عبدالقدوس خان د ولسی ملاتړ په مټ مخ په سپين بولدک وخوځيد او په پای کي انګريزان يي په شا وتمبول.

امان الله خان غوښتل چي خپل ماما خوشدل خان په دار وځړوي خو د مور په سپارښتنه يي هغه و باښه.

د پکتيا جبهي قوماندان سپه سالار محمد نادرخان وه چي له خپلو ورونو (شاولی خان او شامحمودخان) سربيره ګڼ شمير قومي مشران او نامتو روحانيون (شمس المشايخ او نورالمشايخ) هم ور سره مل ول ، مخ په پکتيا رهي شول ځواکونو لومړی شپه د اپرېل (٢١)[5] په چار اسياب کي وکړه او د اپرېل په (٢۴) ګرديز ته و رسيدل.

سپه سالار د نورو جبهو په پرتله ډېر پوځي او قومي ملاتړ او امکانات خپل کړي ول ان داچي ډله ييزي رسنی او د عکاسی کمرې او خپروني هم په واک کي وې، چي وخت په وخت به يي دده د بري خبرونه په (امان افغان) کي خپرول.

محمدنادرخان د (٢٠) شلو ورځو په شاو خواکي ياني د مي تر ١۴ نيتي د ګرديز په بالا حصار کي د جګړييز پلان د جوړيدوپه پلمه پاتي شو.

د خپلواکی د جګړي د پيل نه لا دمخه ډګروال مبارکشا خان او ډګروال محمد علم خان تر قوماندانی لاندې په خوست او علی خپلو کي د سپکي او درندي وسلي په لرلو سره پوځي ځواکونه ځای پرځای کړي ول.

خو کله چي نادرخان د مي په ديارلسمي (١٣) نيتي پوځي ځوا کونه په دريو برخو ووېشل نو بيا يي سردار شامحمودخان دېته وګماره چي له يو شمېر پوځونو، قومي مشرانواو عالمانو سره (پيوار) ته لاړ شي.

سردار شاه ولي خان يي له نور المشايخ او يو شمير نورو سره و (اورګون) لورته واستول، او په خپله سپه سالار محمد نادرخان د خوست اوتل جبهه تر خپلي ولکي لاندي وه نيوه.

ولي له دېنه دمخه « کله چي جنګ په رسمي بڼه پيل شي » د مسيدو جنګياليو لا دمخه د «سروکي» په جنګي قشلی بريد کړی وه او له انګرېزانو نه يي ډېر څه د غنيمت په توګه لاندې کړی ول.

د تنيو جنګياليو هم د انګريزانو تلګرافی ليکي پرې کړي وې. ددې سيمي وګړو دپيوار، علی خيل، توچي او کرمي پوری پرمختګ کړی وه.

سپه سالار دخوست په لور متون ته لاړ او بيايي د جګړې ليکي ووېشلي او هر چاته يي جګړه ييز لوري په ګوته کړل[6].

مورږ د مخه وويل چي د محمد نادرخان سره د رسانيو يو شمېر استازي ملګري ول. په دغه لړ کي يو هم ظفر حسن ايبک چي يو هندوستانی وه مل وه.

کله چي سپه سالار د مي ١٤ مه خوست پلازميني متون ته په لاره وه، ظفر حسن خاطراتو کي کښلي دي چي نادرخان په دې هيله چي په خوست کي ځيني توکي د جګړي لپاره تهيه کړي لس(١٠) ورځي بايد دلته پاتي شي.

دی وړاندي کاږي :

»موږ په متون کي وو چي خبر مو تر لاسه کړ چي وزير واومسيدو په «وانه» بريد کړيدی.«


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

هغه شمېر ملېشايي ځواکونه چې د انګرېزانو په چوپړ کې ول یا خو کوروته تللي دي او یا ګڼ شمېر یې سردار شاولي خان ته اوښتي دي. او خپلې وسلې یې هم تسلیم کړېدي[7].

د «واڼي» په تړاو سردار شاولی خان هم د مي په ۲۳ نېټې سپه سالار محمد نادرخان ته د یوه لیک په ترځ کې کښلي دي چې د وزیرستان جنګیالیو د «واڼي» چونی کلابنده کړېده.

همدا راز د منګلو جنګیالیو هم پرته له اجازې نه په (ټل) برید وکړ او د(ټل) اوسېدونکو ددوي له برید نه خپل ملاتړ څرګند کړ.

عبدالصمد غوث انګېري چې: جنرال نادرخان د خوست له متون نه د وزیرستان په لور وخوځېد او د ټل په کلا یې برید وکړ[8].

جنرال محمد نادرخان په ناڅاپي توګه د مي په ۲۶ نېټه د لس (۱۰) زره ولسي لښکر او درې (۳) زره پوځي ځواکونو سره د ټل په پوځي کلا برید وکړ. په داسي حال کې چې هوايي بریدونه هم روان ول افغانانو د ټل کلا ونیوله او د کلا پر برج یې د افغانستان بیرغ و ځړاوه.

متارکه ولي وسوه ؟
دا چې متارکه ولې وشوه او د چا په وړاندیز وشوه؟ په دې تړاو بېلا بېلو څرګندونوته تم کېږو:

۱ ــ د ټل، واڼي، پیواړ او وزیرستان په سیمه کې ولسي لښکر او افغان پوځي ځواکونه یو د بل پسي بري ته رسېدلي ول او ان تر دې چې متارکه هم اعلان شوه، یو شمېر جنګیالیو خپلې مور چلې پرینښودې.

ملي مجاهدینو له یادو سیمو سربېره تر بنو او میرام شاه پورې د انګرېزانو اړیکي له سیمي سره پرېکړې وې.

نه یوازې په منځنی جبهه کې ولسي پاڅون په ډېر شور او زوړ د الله اکبر په نارو د خپلواکی چېغې وهلې بلکې له چترال نه راوا خله تر خیبر، پکتیا او ان تر کندهار (سپین بولدک) پورې د خلکو وینې په جوش راغلي وې. « ډیوډلاین» لیکلي چې برتانویان دومره ستړي شوي و چې زرګونه سرتېري د خیبر له درې بېرته راوګرزېدل ان داچې سرتېرو لاریون وکړ، خو رسنیو یې له خپرولو ډډه وکړه. برېتانیا ددې لپاره بمباري وکړه چې کابل وویروي، هند لي پیچ کابل بمبار کړ.

په چترال کې سیمه ییز واکمن «مهتر) عبدالرحمن خان[9] د عبدالملک خان جلاله پلار د امان الملک جلاله نیکه هم د خپلواکی په نوم پاڅون وکړ.«د انګرېزان لپاره مهمه داوه چې یو شمېر هغه قبایلي ځواکونه چې ددوی په ملېشاو کې شامل ول د دوی له امرنه سرغړونه وکړه»[10] میر زمان خان کنړی یو بل نامتو جنګیالی و چې د مي په ۸ نېټه یې له اسمار نه د بریکوټ پرلور له خپلو مېړنیو سره حرکت وکړ.

همدا راز جنرال عبدالوکیل خان د جون په ۲۳ نېټه د ولسي لښکر ددفاع په خاطر مخ په چترال روان شو.

د یادو بریو پربنسټ ویلی شو چې د متارکي عوښتنه د انګرېزانو له خوا شوېده.

۲ -یو شمېر تاریخ پوهان انګېري چې د متارکي وړاندیز د غازي امان الله خان لخوا شوی وه.

ددې لامل دا ګڼي چې ګڼي دانګرېزان درني بمباری وې چې د کابل او جلال اباد په ښارونو کې یې وکړې، نو بیا یې ځکه جنرال محمد نادرخان ته د یوه فرمان په ترځ کې وویل:

»د کابل وګړي د بمباری نه په تنګ راغلي دي او دکابل لوړ پوړي انګېري چې اوس د جګړې وخت نه وه، ملامتي یې پرما شا امان الله اچوي[11]«.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

۳ -داسي انګېرني هم شته چي امان الله خان د هېواد له ختيځ (خيبر) او سپين بولدک له جبهو ناهيلی شوی وه، هغه هيله يې هم چې ګڼي په هندوستان کي به دانګرېزانو په وړاندې پاڅون کېږي ترسره نشوه.

ځکه يي متارکي ته غاړه کېښوده او په دې يې بسنه وکړه چي انګرېزان بايد د افغانستان خپلواکي په رسميت وپېژني.

۴ -په پښتونخوا کي د ډېورنډ د کرښي پورې غاړې ته د ولسوونو پاڅون انګرېز دومره ګواښلی وه چي اغېزې يې د هند پر نيمه وچه بې اغېزې نه وې. دوی پدې پوهېدلي ول چي که متارکه ونه کړي ښايي نورو اسلامي هېوادوته هم د دا ډول جګړو لمنه وغځيږي.

دوی سره دا وېره او انديښنه هم وه چي دغه پاڅونونه به د پاريس د سولې په پرېکړو هم اغېز وکړي.

همدا لامل وه چي انګرېزانو په هندوستان کي افغان استازی سردار عبدالرحمن خان ډکي ته راوست.

د ده د کورنی غړي يې ترې ستانه کړل او بيا يې دغه پيغام ورکړ چي کابل ته لاړشي پاچا امان الله خان متارکي ته راوبولي.

»ادمک » هم پدې اند دی چي د برتانوي هند حکومت افغان استازي ته اجازه ورکړه چي کابل ته لاړشي پاچا دېته اړ کړي چي د دوښمنی نه لاس واخلي.

امان الله خان هم ومنله او اوربند اعلان شو چي بيا په راول پنډی کي خبرې پيل شوې[12].

داچي دمتارکي وړانديز لمړی له کوم لوري شوی دی؟ خو بيا هم متارکه د جون په دريمه (۳) نېټه (۱۹۱۹ ز کال) مينځته راغله چي د راولپنډی ترون ته يې لاره پرانستله.

[1]؛- غبار ميرغلام محمد افغانستان درمسير تاريخ ۷۴۵مخ

:- [2]ادمک لودويک د شلمي پيړی تر نيمايي...اريزونا ۱۹۷۴ کال ۴۷ مخ

:- [3]د لودويک ادمک هماغه اثر ۴۸مخ

:-[4]غبار مير غلام محمد افغانستان در مسر تاريخ ۷۵۹ مخ

نوټ: پايله دا چي ولس د چګړې په ټولو جبهو کي بری و ګاټه بلکي حکومت متارکه ومنله او يا يې متارکه و غوښته.

:- [6]همدغه اثر ۷۶۴مخ

:- [7]ايبک ظفر حسن «خاطرات» ۱۸۸مخ

:- [8]غوث عبدالصمد سقوط افغانستان ۴۳ مخ

:- [9]عبدالملک جلاله پلار د امان الملک جلاله نيکه

[10] : Admes, Afghanistan.p 114-118

:- [11]وکيلي عزيزالدين پوپلزی نګاهي به تاريخ استرداد استقلال افغانستان کابل ۷۹ مخ

[12] :- Admec, Afghaninstan. P.114-148


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ